DTM AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

لغمان
د پایلي لنډیز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸



۲،۳۷۴ داخلي بېځایه شوي کسان په لغمان ولایت کې خیمو کې ژوند کوي چې ډېری یې برېښنا ته لاسرسی نلري. ځیني داخلي بېځایه شوي کورنۍ هم شته چې لمرېزې برېښنا ته لاسرسی لري، لکه دا کورنۍ چې د قرغه ئي ولسوالۍ په عزیز خان کلي کې اوسېږي. © IOM ۲۰۱۸

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم داسې یو سیستم دی چې د خلکو د بېځایه کېدنې او تحرک له بهیر څخه تعقیب او څارنه کوي. دا سیستم په سیستماټیک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سیمه او یا لاره کې د بېځایه شویو خلکو هغه اړتیاوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنسټیزه وسیله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځایه شویو کسانو د نفوس کچه او موقعیت تشخیص، د بېځایه کیدو علت، اصلی سیمې، د بېځایه کېدو مهال، لومړني ډیموګرافیکي معلومات، زیانمنتیاوې او د اړتیاوو د لومړیتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کلیو په کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامخ کتنو او کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړیوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پیاوړتیا ورکوي چې سرچینې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړیتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بیا یوځای کېدنې، ثبات او پراختیا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعیتونو کټګوریو موقعیت، نفوس او څو سکټوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې درېو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

د ارزول شویو کلیو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځایه شویو په توګه یې خپلې سیمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په یوې بلې سیمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شویو کلیو څخه پخوا د داخلي بېځایه شویو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعیتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځایه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۵** ولسوالۍ وارزول شوې

**۲۰۵** کلي وارزول شول

**۱،۱۲۵**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۹۴،۸۸۶**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۴۱،۱۵۲**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۳،۵۶۴**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۲۴،۹۲۴**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۳،۲۰۲**
کسان اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۱۳٪)

**۶،۱۵۶**
راستنیدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۵ څخه ۱**
کس په لغمان ولایت کې یا راستنېدونکی دی او یا هم داخلي بېځایه شوی

**۳ څخه ۲**
کسان د ټولو رارسېدلیو داخلي بېځایه شویو له ډلې په مهترلام ولسوالۍ کې مېشت دی (۶۴٪)

**۴ څخه ۱**
کس په علینګار او دولت شاه ولسوالیو کې یا راستنېدونکی دی او یا هم داخلي بېځایه شوی

**۵ څخه ۳**
رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان (۵۹٪) د مهترلام ولسوالۍ په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي

**۲۵،۹۱۸**
کسان (۴۴٪) په علینګار ولسوالۍ کې بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۶ څخه ۱**
کورنۍ (۱۵٪) په قرغه ئي ولسوالۍ کې ښوونځیو ته هېڅ لاسرسی نلري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسوالیو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالۍ | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مهترلام | ۱۴۹,۷۲۰ | ۴۱,۴۶۸ | ٪۲۲ | ۱۴,۹۴۴ | ٪۸ | ۲۱,۷۵۴ | ٪۱۵ | ۲۶,۵۲۴ | ٪۱۴ | ۱,۵۴۰ | ٪۱ | ۵,۰۹۲ | ٪۳ |
| علیشینګ | ۷۷,۸۸۷ | ۱۵,۰۷۸ | ٪۱۶ | ۱۲,۱۸۸ | ٪۱۳ | ۱۱,۶۴۱ | ٪۱۵ | ۲,۸۹۰ | ٪۳ | ۴,۶۹۰ | ٪۶ | ۶,۷۵۶ | ٪۹ |
| قرغه يي | ۱۰۷,۰۱۵ | ۲۳,۳۱۷ | ٪۱۸ | ۱۹,۵۶۴ | ٪۱۵ | ۴۷۶ | ٪۰ | ۳,۷۵۳ | ٪۳ | ۰ | ٪۰ | ۷۹۱ | ٪۱ |
| علینګار | ۱۰۵,۶۰۳ | ۴۲,۹۵۱ | ٪۲۹ | ۳۷,۹۴۲ | ٪۲۶ | ۴۸,۱۲۴ | ٪۴۶ | ۵,۰۰۹ | ٪۳ | ۵۸۶ | ٪۱ | ۵,۳۵۲ | ٪۵ |
| دولت شاه | ۳۶,۳۱۲ | ۱۳,۲۲۴ | ٪۲۷ | ۱۰,۲۴۸ | ٪۲۱ | ۸,۶۸۰ | ٪۲۴ | ۲,۹۷۶ | ٪۶ | ۶,۷۴۸ | ٪۱۹ | ۶,۹۳۳ | ٪۱۹ |
| مجموعه | ۴۷۶,۵۳۷ | ۱۳۶,۰۳۸ | ٪۲۲ | ۹۴,۸۸۶ | ٪۱۵ | ۹۰,۶۷۵ | ٪۱۹ | ۴۱,۱۵۲ | ٪۷ | ۱۳,۵۶۴ | ٪۳ | ۲۴,۹۲۴ | ٪۵ |

** د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداره *(NSIA)* اټکل    سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≥ ۲۰۰,۰۰۰    د نفوس سلنه ≥ ۲۵٪



پـه لغـمان ولایـت کـې د ښـوونځیو د ودانیـو کموالـی لیـدل کېـږي له همدې امله ډېری ښـوونځیو کې ماشـومان پـه آزاده فضأ کې او ځینې وخت د سـتونزمنو شرایطو لانـدې ژوند کوي. پورتنی انځور هغه انجونې ښـيي چې د بانـدې پـه آزاده فضـأ کـې د دوبي پـه ګرمـې هوا کې د مهترلام ولسـوالۍ په کچور کلي کې سـبق وایـي. © IOM ۲۰۱۸

## تګلار

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړي د سیمه ایزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیتي معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټلیفونونه یا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجود معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لوري تری کتنه او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B۱): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کلیو په کچه ارزونه (B۲): دا ارزونه د B۱ ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او وتلیو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B۱ په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د څو سکټوریزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوي غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جنډر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. که څه هم په لغمان ولایت کې د فرهنګي محدودیتونو له امله DTM پروګرام ونشو کولای ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي پیدا کړي.

**۱،۱۲۵**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۱۵۳**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنیدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (۱۴٪)

**۱**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۰,۱٪)

**۱۰۵**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹٪)


**۱،۱۲۴**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹۹,۹٪)

**۲۹۹**
څو سکټوریز او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۷٪)


**۵,۵**
په هرې ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۴۲۱**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۷٪)

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | لغمان




د ډول او جنسیت پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | لغمان



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شویو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هېوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چاروکو ته یې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او یا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چاروکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنیو هېوادونو څخه لغمان ولایت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ۶۳٪ زیاتوالی ښیي خو په ۲۰۱۷ کال کې د ۲۰۱۶ کال په پرتله ۸۳٪ کموالی او په ۲۰۱۸ کال کې ۸۱٪ کموالی ښیي.

**۹۴،۸۸۶**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي


**۷۸،۷۸۱**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۸۳٪)


**۳۸،۰۹۸**
له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۴۱٪)


**۱۴،۶۵۹**
ایران څخه راستنېدونکي (۱۵،۵٪)


**۵۵،۳۴۲**
له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۵۹٪)


**۱،۴۴۶**
غیر کاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکي (۱.۵٪)




# رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنـۍ یـا وسـله والـو جګـړو، تاوتریخوالـی، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خوندیتـوب اندیښـنې او د طبیعـی پیښـو یـا د انسـان پـه لاس جـوړې شـویو پیښـو څخـه د خوندیتـوب پـه موخـه خپلـو سـیمو څخـه بېځایـه شـوي دي او ارزول شـوي/ کوربـه ټولنـو تـه تللـي او هلتـه ژونـد کـوي.

**۴۱،۱۵۲**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلی بېځایه شوي کسان

**۱۰۰٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي


**۲۶،۵۲۴**
مهترلام ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان – د ولایت په کچه تر ټولو لوړ شمېر

**۰٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي


**۲۴،۴۸۰**
داخلي بېځایه شوي په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي (۵۹٪)

**۹۱٪**
په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي


رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنۍ بهیر | لغمان





د اصلي ولایت پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | لغمان





د ولسوالۍ پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | لغمان




د ولسوالۍ پر بنسټ غیر رسمي سیمو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان | لغمان





رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | پناه ځای | لغمان



# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)

پـه عمومـي توګـه لغمان ولایـت له ټولټال ۱۳۶،۰۳۸ راسـتنېدونکو او داخلي بېځایه شـویو څخه کوربه توب کوي چې ۷۰٪ (۹۴،۸۸۶ کسـان) راسـتنېدونکي او ۳۰٪ (۴۱،۱۵۲ کسـان) داخـلي بېځایـه شـوي دي. پـه لانـدې جـدول کـې د لغـمان ولایـت ۲۰ کلي ښـودل شـوي چـې ترټولـو زیاتـو بېځایـه شـویو او راسـتنېدونکو راتـګ څخـه اغیزمـن شـوي. دا ۲۰ کلي (د لغـمان ولایـت ۲۰۵ ارزول شـویو کلیـو څخـه ۱۰٪) د ټول ولایت ۵۴٪ راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو څخـه کوربـه توب کـوي. دا کلي د ټولنـو بې ثباتۍ پـر وړاندې چې د راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو لـوړ شـمېر راتـګ سره رامنـځ ته شـوې حسـاس او زیانمـن دي او دا کار لـه پخـوا نـه محـدودې شـوې سرچینـې او کاري فرصتونـو لا نـور هـم محـدود کـوي. لـه دې ۲۰ زیانمنـو کلیـو څخـه ۱۰ کلي یـې پـه علینګار ولسـوالۍ کې موقعیـت لـري او د دې جـدول ۵۹٪ (۴۲,۹۵۱) راسـتنېدونکو او داخلي بېځایه شـویو څخه کوربـه تـوب کوي.





### ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډیز


| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| علینګار | ۳۷,۹۴۲ | ۵,۰۰۹ | ۴۲,۹۵۱ |
| مهترلام | ۱۴,۹۴۴ | ۲۶,۵۲۴ | ۴۱,۴۶۸ |
| قرغه ئی | ۱۹,۵۶۴ | ۳,۷۵۳ | ۲۳,۳۱۷ |
| علیشینګ | ۱۲,۱۸۸ | ۲,۸۹۰ | ۱۵,۰۷۸ |
| دولت شاه | ۱۰,۲۴۸ | ۲,۹۷۶ | ۱۳,۲۲۴ |
| عمومي مجموعه | ۹۴,۸۸۶ | ۴۱,۱۵۲ | ۱۳۶,۰۳۸ |

### ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلی بېځایه شوي لري

| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | تنګور شورآباد | علینګار | ۸,۱۴۱ |
| ۲ | تګ | علینګار | ۷,۹۰۰ |
| ۳ | ناحیه ۲ - یونس چوک | مهترلام | ۶,۲۳۳ |
| ۴ | میا خلیل سفلی | علینګار | ۵,۰۹۶ |
| ۵ | آلوخیل | علینګار | ۴,۱۹۹ |
| ۶ | ده بغلک | مهترلام | ۴,۰۵۶ |
| ۷ | پروایي | علینګار | ۳,۷۰۶ |
| ۸ | محمد زی | مهترلام | ۳,۵۹۹ |
| ۹ | شهرک مهاجرین | قرغه ئی | ۳,۵۸۴ |
| ۱۰ | چوپان | علینګار | ۳,۴۰۸ |
| ۱۱ | علینګار - د ولسوالۍ مرکز | علینګار | ۳,۳۰۲ |
| ۱۲ | کاهو | علینګار | ۲,۹۸۳ |
| ۱۳ | نور الم | علینګار | ۲,۶۹۵ |
| ۱۴ | پنج پای میر علی خیل | مهترلام | ۲,۵۰۳ |
| ۱۵ | زیرنی حولیا | قرغه ئی | ۲,۴۹۳ |
| ۱۶ | مهترلام | مهترلام | ۲,۳۱۲ |
| ۱۷ | وره کله | قرغه ئی | ۲,۲۴۰ |
| ۱۸ | عزیز خان کلی | قرغه ئی | ۱,۷۶۳ |
| ۱۹ | بایلم | علینګار | ۱,۵۲۱ |
| ۲۰ | شیرګر | مهترلام | ۱,۵۰۳ |
| | | مجموعه | ۷۳,۲۳۷ |



د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي


دا هغه افغانان دي چې له يوې ارزول شوې سيمې څخه چې هلته يې پخوا ژوند کاوه د افغانستان دننه يوې بلې سيمې ته تللي دي تر څو د وسله والو جګړو، تاوتريخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب اندېښنې او طبيعي پېښو يا د انسان په لاس جوړو شويو پېښو څخه خوندي ووسي.


**۹۰،۶۷۵**
داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي


**۸۷٪**
په عين ولايت کې نورو سيمو ته تللي دي

**۱۰۰٪**
د کړکېچ له امله بېځايه شوي

**۰٪**
د طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي



د هغو داخلي بېځايه شويو اصلي ولسوالۍ کانې چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي

# راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

راستانه شوي داخلي بېځایه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سیمو ته چې ارزول شوي سیمې دي او پخوا يې پرېښې وي بېرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سیمو څخه تللي ول ترڅو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندېښنې او طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړ شویو پېښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.


**۱۳،۵۶۴**
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي

**۷۵٪**
وګړي د ولایت دننه نورو سیمو څخه راستانه شوي


**۶ څخه ۵**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان یوازې ۲ ولسوالیو ته راستانه شوي: دولت شاه او علیشنګ (۸۴٪)


**۲ څخه ۱**
د ټولو راستانه شویو داخلي بېځایه شویو له ډلې ۵۰٪ کسان دولت شاه ولسوالۍ ته راستانه شوي

د ولسوالی پر بنسټ راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | لغمان




راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر | لغمان



د راستانه شويو داخلي بېځايه شويو د راستنېدو ولسوالۍ کانې

# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان


دا هغه افغانان دي چې لـه یوې ارزول شـوې سـیمې څخه د هـر دلیل، عامل او یا مـودې لپاره له هېـواد څخـه بهـر تلـلي او یـا کډوال شـوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښـتونکي، بېځایه شـوي، کډوال او هغه کسـان شـامليږي چې افغانسـتان يې د اقتصادي سـتونزو له امله پرېښـې وي.


**۲۴،۹۲۴**
د هېواد څخه بهر تللي دي


**۳،۲۰۲**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۱۳٪)


**۱۶،۴۳۹**
ایران ته تللي دي (۶۶٪)


**۵،۲۴۰**
پاکستان ته تللي دي (۲۱٪)




# سکټوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | علینګار | ۴۲,۹۵۱ |
| ۲ | مهترلام | ۴۱,۴۶۸ |
| ۳ | قرغه يي | ۲۳,۳۱۷ |
| ۴ | علیشینګ | ۱۵,۰۷۸ |
| ۵ | دولت شاه | ۱۳,۲۲۴ |
| | عمومي مجموعه | ۱۳۶,۰۳۸ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | مهترلام | ۳,۰۱۹ |
| ۲ | علینګار | ۲,۲۲۸ |
| ۳ | قرغه يي | ۹۱۰ |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | ۶,۱۵۶ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | مهترلام | ۳,۵۹۹ |
| ۲ | دولت شاه | ۶۴۸ |
| ۳ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | ۴,۲۴۷ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې روغتیايي ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | مهترلام | ۲,۷۰۹ |
| ۲ | علینګار | ۲,۶۹۵ |
| ۳ | دولت شاه | ۱,۰۸۴ |
| ۴ | علیشینګ | ۵۵۰ |
| ۵ | قرغه يي | ۵۴۴ |
| | عمومي مجموعه | ۷,۵۸۲ |


### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځۍ ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځۍ >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | قرغه يي | ۳,۵۱۳ |
| ۲ | مهترلام | ۱۶۰ |
| ۳ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | ۳,۶۷۳ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | علینګار | ۲۵,۹۱۸ |
| ۲ | علیشینګ | ۱۴,۸۴۴ |
| ۳ | دولت شاه | ۱۳,۲۲۴ |
| ۴ | قرغه يي | ۴,۰۹۵ |
| ۵ | مهترلام | ۴۴۶ |
| | عمومي مجموعه | ۵۸,۵۲۷ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | لغمان




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### یو سړی چې په شدیده توګه د خپلې کورنۍ څخه د ملاتړ په هڅه کې دی

تاج محمد د ۹ کسیزې کورنۍ مشر دی. هغه اصلاً د لغمان ولایت له مهترلام ښار څخه دی. د دولت او د دولت د مخالفو ډلو د جګړو له امله هغه له خپلې کورنۍ سره له مهترلام ولایت څخه علیشنګ ولسوالۍ ته بېځایه شوی دی. هغه او د هغه کورنۍ د ۲۱،۷۵۴ داخلي بېځایه شویو له ډلې څخه دي چې مهترلام ولایت یې پرېښی دی. هغه وایي چې جګړې پر هغه او د هغه په کورنۍ رواني لحاظ څخه بده اغیزه درلودلې. هغه وېرېږي چې که چېرې له خپلې کورنۍ سره بېرته کور ته ستون شي نو د جنګ له امله به د هغه او د هغه د کورنۍ ژوند د ګواښ سره مخ شي.

اوس تاج محمد کومه سمه دنده نلري ترڅو وکولای شي له خپلې کورنۍ څخه ملاتړ وکړي. هغه د خوراکي توکو یوه کراچۍ لري او کوښښ کوي چې خپلې کورنۍ ته خواړه برابر کړي. په اوسطه توګه هغه د ورځې ۵۰ افغانۍ عاید لري.

ځکه چې هغه کوم کور نه درلوده نو هغه په یو دولتي ځمکه کې کور آباد کړ خو ښاروالۍ هغه بېرته وران کړ. هغوی اوسمهال په یو خراب کور کې ژوند کوي ځکه چې د سم کور د کرایه کولو پیسې نلري. هغه وایي چې خپل کور ورته ډېر یادېږي ځکه چې هلته یې کولای شو په پټیو کې کار وکړي او سم کور یې هم درلوده.

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوۍ خوندي ووسي.



تاج محمد د ډېریو نورو جنګ ځپلیو داخلي بېځایه شویو په شان رنځ وړي چې له خپل کور څخه لرې دی او هیله لري چې یوه ورځ بېرته خپل کور ته ستون شي ترڅو وکولای شي هلته ښه ژوند ولري. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترخ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي

Canada
MOFAT
NORWEGIAN MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS
ITALIAN AGENCY FOR DEVELOPMENT COOPERATION
Co-funded by the European Union
په همغږي سره